

*دا هم د« ایوب سالنګی »دداخلی چارو دوزارت پخوانی مرستیال چی دحامد« کرزی» په زمامداری کی داسی یو شاهانه کور یی جوړ کړی اوتاسی په دغه سالون کی حامد «کرزی» دافغانستان مخکینی جمهور ریس اوهیواد مل ګوری چی دسالنګی په کور کی رادعوت شوی دی*

## افغان وروره !

*ته چی دومره خوار اوزار یی اودیوی مړی ډوډی پسی سرګردانه ګرځی اوخپل اولاد په پور اوقرض سره خارج ته لیږی چی که تاته دمیاشتی یو څو روپی ولیږی چی دتا پری ګذاره وشی مګر له بده مرغه ځوی دی په لاره کی داباسین په څپو کی غرق کیږی اودهغه مړی کبان خوری اوستا هدف نه ترسره کیږی باید اوس ځا ن پوه کړی چی ستا ډوډی اوستا شتمنی ستا ننی دښمنان لکه سالنګیان – کرزیان – هیواد مالیان جهادیان – قوماندانان – اوټول اشرار چی اوس دامریکی – سعودی عرب – پاکستان – ایران او .... له خوا ملاتړ کیږی له تا غلاکړی دی اوځان ته داسی قصرونه جوړ کړی دی – ایا تا له ځانه پوښتنه کړی ؟ چی دغه سالنګی خو تر پرونه پوری له غرونو څخه خڅ اوبوټی ټولول اوبیا پرخره باندی هغه بوټی بارول او دکابل په ښار کی پر نا نوایانو باندی خرڅول اودهغه په پیسو باندی ځانته وچه ډوډوی اخیستل اما اوس د هغه کور وګوره – داپیسی اوداثروت هغه دکومه کړل -؟*

*بس دی افغان وروره لږ ځان وښوره وه او هوښیار شه- ملا وتړه نوروسره یوځای شه اوددی غلو –داړه مارو – غاصبو ....په مقابل کی ودریږه اوخپل برخه لیک وټاکه*

*هغه ددری ژبو ورونو یومتل دی چی وایی –* ***چیزی که عیان است چه حاجت بیان است !***

## ***افغان وروره***

*چي پخپله هوښيا ر نشی افغا نه*
ځو ژوندی یی تل به ګرځی پریشا نه
يو خو دا چي پر هرچا باور مکړه
چي بيا ونشی په اخر کی پیښیما نه
**

چی دا تراوسه کړاونو کی اخته یی
هغه داچي په زړه صا ف اوساده یی
دی نړی کی ساده ګی نه پکا ریږی
ساده ګی کی ته غلیم ته ازموده یی
**

غلیما نو ته هیڅکله دوست مه وایه
دزړه حال هرچا ته مه وایه بیځا یه
اوس په خلکوکی ریښتیا پاتی نه دی
نا شناس سره هیڅ مه ځه په یولاره
**

دامشران چی اوس رهبراوپیشوا دی
دوی له یو سره نوکر د امریکا دی
طمعه مکوه له دی نوکر صفتو
ددوی لاره اوس له خلکو جدا دی
**

دوی له یو سره غله اوغاصبان دی
که ایوب یا یی ورور سالنګیان دی
دوی سره دوطن مینه پا تی نه دی
دوی داپین اوهیروین قاچاقبران دی
**

جرمنی ۲۰۱۵-۳-۲۸ دوکتور «مل»